# دبزگرلور



Ketabton.com

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د غوايي لاندی

لاس و پښسې چاودي مخ سپېره شونډي وچې يو کوچنی پښتی غنم يې پر شا را اړولي وو او په ستمي د کور پر لوري را روان دی، بشپړي نهه مياشتي يې خواري کښلې ده او منتونه يې وړي دي، تر څو چي په اخري دوبي (۹۰) منه غنم له بزگری نه ورغلل په دې کي يې (۹) منه غنم ملا صاحب ته زکات ورکړل، (۳۰) منه يې پښ ته ورکړل او څلور منه هم (رقبه) ترېنه يووړل، (۲۰) منه يې د هغو دوو زرو افغانيو په سود کي ورکړل کومي چي د ده د پلار د مرگ د خيرات او اسقاط لپاره د يوه سودخور نه په شپېته منه گټه راوړي وې، په کور کي د ده ماينه او مور او څلور ماشومان د ده لاره څاري او ماشومان يې له کوره راوتلي او د هغې لاري خواته په ډېره اسره گوري، پر کومه لاره چي د دوی پلار اوس کورته راځي او د رشې غنم راوړي، د ده مور او ماينې د سږ کال د محصولاتو په شاوخوا کي خورا ښې خوږې کيسې کولې او هيله يې وه چي گوندي سږ به يو څو ورځي په نس ماړه سي، په دې وخت کي ماشومان يو په بل پسې د کور لوري ته راځغلي او ناري وهي چي بابا راغی او غنم يې په شا دي.

بزگر هم پښتی په شا په کور راننووت او پښتی يې د خوني له مخه کښېښود، مور او ماينې په الوتو بنو ترېنه د رشې احوال پوښته چي په دې وخت کي يو سړی ترازو او کاني په لاس په انگر راکښېووت او په کلک ږغ يې ورته وويل چي: "تا خو ويل پر راشه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



غنم د پور په عوض کي در کړم او تا ټوله غنم خپل کور ته راوړل، خان صاحب په قهر وو، ویل یې چي دا څلور پنځه میاشتي کېږي چي تا نه (کورغم) ورکړی او نه دي (سړي غم) ادا کړی دی، روپۍ خو نه لرې ژر شه غنم راوتله، موږ یې چیغي کړې چي دا څو دانې چي ته یوسې نو موږ به څه خورو، ده ورته وویل خاوري!".

سم د لاسه یې اندی راواړاوه او ټوله غنم یې ځیني وتلل او په پای کي یې لا نور هم پسې په قهر خوار بزګر ته وویل چي: "دونه منه خو لا نور هم درباندي پاته سول هغه به څرنګه سي".

خوار بزګر په داسي حال کي چي له څواشینۍ نه یې پر ستوني درد وو، تش جیوال و ځانده او یوې خوا ته یې کښېښود.

ماشومانو وژړل او په ژړا ژړا کي یې وویل چي: "موږ خو وږي وو، تاسي خو به یوه لپه نیني راکولې، د ماشومانو انا د باندي ولاړه او یو څه شفتل یې په پلو کي راوړه او له مالګي سره یې له ماشومانو سره وخوړه، خو ماشومان په دې تر ډېري مودې قانع نه سول او د ډوډۍ لپاره یې په ژړا پیل وکړ.

خوار بزګر ته اوس د کلي ګاونډیانو پور هم نه ورکاوه، ځکه له یوې خوا د ده ګاونډیانو هم دغه راز د ناداری تکلیف درلوده، له بلې خوا ده چي پر راشه باندي یو دوې کاسې اوړه ترینه پور کړي وو هغه یې بېرته نه وو ورکړي، او خپل اعتبار یې بایللی و، نو وروسته له هغه چي ډېر فکر یې وکړ، له ځانه سره یې فیصله وکړه چي د یوې غویې چي د ده وروستنۍ او یوازنۍ دارایي وه د هغه په مرسته یې د خلکو بزګري کوله د عیال دقوت او لایموت لپاره حلال کړي او په خپله سترګي نهامي کړي په دې خصوص کي یې د مور او مایني رضایت هم

Scanned by CamScanner

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخيست او د يوې غويي يې حلال کړ چې د عيال د ژمي او مني قتغ سي او په خپله لخي پښې پړانګي پړانګي کالي بلي منطقې له د خوارۍ او مزدورۍ لپاره ولاړ.

ده په يوه توده منطقه کې شپږ مياشتې د خاورو او خټو مزدوري وکړه، ده ته يې د ورځې شپږ افغانۍ ورکولې، چې درې افغانۍ يې په سپوره ډوډۍ خوړلې او درې افغانۍ يې د کور لپاره سپمولې، په پاى کې د ده ټوله ګټه (۴۲۸) افغانۍ سوه، چې په (۳۰۰) افغانۍ يې ځانته پنې او کوچنيانو ته يو يو کميس واخيست، دى شپږ مياشتې په کور خبر نه وو، او په خورا بيړه او ښه زړه د کور لوري ته راروان سو چې د کور په وره راننووت او لوز او ماينې يې چيغې کړې.

وروسته ورته څرګنده سوه چې مور او درې ماشومان يې د سکاروي په اثر په منې لا مړه سوي دي، يو ګړى وروسته د کلي ملک وروغوښت او ورته يې وويل چې: "ستا د مور او ماشومانو کفنونه مې ورکړي دي چې قيمت يې (۴۳۳) افغانۍ کېږي او هم مې ستا پر ځاى په دې شپږو مياشتو کې (۱۲۳) افغانۍ د (کورغم) او (سړي غم) پرې کړى دى، تا خو ځان نهام او خپلې مېلې دي کولې، ټول غمونه دي پر مونږ راايله کړي وو، اوس دستي زما پور چې (۷۴۲) افغانۍ کېږي راکړه" ځکه چې ده دا ټول رقم پر يو ځاى نه شو تاديه کولاى نو محکمې ته يې کښ کړ او بندي شو چې بيا د دې خوار او د ده د کالۀ احوال چا وا نه خيست[۱۰]

«۱۳۳۰» ش کال ۱۹۵۱ ع کال

---

[۱۰] اوسني ليکوال لومړى ټوک

Scanned by CamScanner

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**